کله چې رمضان راشي نو د جنت دروازې پرانیستل شي، د دوزخ دروازې بندې شي او شیطانان په زنځیرونو وټړل شي

له ابو هُریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «کله چې رمضان راشي نو د جنت دروازې پرانیستل شي، د دوزخ دروازې بندې شي او شیطانان په زنځیرونو وټړل شي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې کله رمضان راشي نو درې کارونه کېږي: لومړی: د جنت دروازې پرانیستل کېږي او هېڅ یوه یې بنده نه پاتې کېږي. دویم: د دوزخ دروازې ټړل کېږي چې هېڅ دروازه یې خلاصه نه پاتې کېږي. دریم: شیطانان او سرکشه پیریان په زنځیرونو ټړل کېږي، نو نشي کولای هغه کارونه تر سره کړي چې دوی به له رمضان پرته په نورو میاشتو کې کول. دا ټول د دې میاشتې د درناوي او تعظیم په خاطر کېږي، ترڅو خلک په دې میاشت کې د عباداتو لکه لمونځ، صدقې، ذکر، د قرآن تلاوت او نورو صالحو اعمالو ترسره کولو ته وهڅول شي او له ګناهونو او معصیتونو څخه ځان وساتي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10107